شریعت
SHARIAT

اوونيزه

په اوونی کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

پنځم کال ۸۲ گڼه پرله پسې(۳۶۹) سه شنبه د۱۴۲۱هـ ق کال د شعبان المعظم (۱۱) د۱۳۷۹هـ ش کال د لړم دمیاشتي(۱۷)د۲۰۰۰ میلادي کال د نوامبر (۷)

طي گرد همايي با شكوهي :

مراسم دستار بندي فارغين مدرسه نورالمدارس فاروقي انجام پذيرفت

غزني – باختر :

دستار فضيلت بر سر ۲۵ تن از علما و حافظان مدرسه عالي نورالمدارس فاروقي ولايت غزني ديروز در ميان موجي از معنويت و صفاي باطن طي اجتماعي بسته گرديد.

در اين اجتماع بزرگ عده يي از مسوولين بلند رتبه ملكي و نظامي امارت اسلامي هيأت رهبري ستره محكمه ا.ا.ا اعضاي رهبري ولايت غزني ، محترم حضرت احمد امين جان آغا مجددي شخصيت روحاني كشور تعدادي زيادي از علما استادان طلباي كرام مجاهدين و شخصيت هاي متنفذ منطقه اشتراك نموده بودند.

اجتماع متذكره كه در صحن مدرسه عالي نورالمدارس فاروقي انتظام يافته بود با قرائت آياتي از كلام الله مجيد توسط محترم قاري عبدالفتاح امام مدرسه متذكره آغاز يافت سپس محترم مولوي عبدالبصير يكتن ازعلماي جيد منطقه محترم قاري احمد الله رئيس عمومي استخبارات ، محترم مولوي عبدالرحمن احمد هوتك معين كلتوري وزارت اطلاعات و كلتور و خطيب مسجد خانقاه عاليه قلعه جواد ، محترم حضرت احمد امين جان آغا مجددي رئيس مدرسه عالي نورالمدارس ص ٤

الهي فرمان

عدل (انصاف) وكړئ ځكه نو همدا (عدل) ډیر نژدې دی تقوا(پرهيزگاري) ته .
(سورة المائدة)

توجه !

ايمان شما اجازه نخواهد داد كه اوراق حامل چنين كلمات مقدس را به بي حرمتي بگذاريد.

د ملگرو ملتونو د سولې د خبرو تر څنگ:

مخالفين د پوځي تيارۍ

پملټبه کې دی

مسعود د روسيې د دفاع له وزير سره تر ملاقات وروسته د دغو احضاراتو تصميم درلود

د مخالفينو دغه اقدام د سيمې خلك له سختو مشكلاتو سره مخامخ كړي

له همدې امله هره ورځ يو زيات شمير كورني خوندي سيمو ته كډې باروي

د مخالفينو دغه اقدام له پوځي پلوه بې اهميته خو د سولې په جاري پروسه منفي تاثير كولى شي

شريعت : - كابل

شريعت ته د يوې موثقې پوځي سرچينې په حواله په يوه تازه خبر كې څرگنده شوې چې له تيرو څلورو پنځو ورځو راهيسې د مخالفينو د جنگ په لومړيو كرښو كې د جنگي احضاراتو نښې نښانې تر سترگو كيږي كه څه هم د دغې خبرې احتمال له هغه وخت نه را پدې خوا ډير و چې كله احمد شاه مسعود د روسيې د دفاع له وزير سرگيوف سره د تاجكستان پلازمينه دوشنبې كې وكتل د شرق الاوسط د معتبرې ورځپاڼې په حواله احمد شاه مسعود ته د روسيې د دفاع د وزارت له خوا دا وعده وركړل شوه چې دوى به د افغانستان د اسلامي امارت په مقابل كې د احمد شاه مسعود بشپړ پوځي ملاتړ كوي او د ضرورت په مهال به د تاجكستان هوايي ډگرونه هم د ٤ مخ

در ساحه پلچرخي:

سنگ تهداب مدرسه تحفيظ القران گذاشته شد

كابل – باختر :

سنگ تهداب مدرسه تحفيظ القران و السنه ديروز در ساحه پلچرخي گذاشته شد.

در محفليكه بهمين مناسبت به اشتراك محترم مولوي عبدالمنان عابد قوماندان جهادي كوه صافي محترم مولوي عبدالودود حقاني ، محترم مولوي عبدالرحمن محترم صاحب زاده صاحب پلچرخي ، محترم ملا شير استاد ، محترم مولوي عبدالغني قوماندان فرقه دوم پياده و ص ٤

محترم قاضي القضات ورئيس ستره محكمه ا.ا.ا :

بايد موضوعات مردم به وقت و زمانش حل و فصل گردد

شريعت : ديروز دوشنبه مورخ ۱۰ شعبان المعظم ۱۴۲۱ هـ ق شوراي عالي ستره محكمه تحت رياست محترم مولوي نور محمد «ثاقب» قاضي القضات و رئيس ستره محكمه ا.ا.ا در مقر ستره محكمه داير گرديد.

ابتدا آيات چند از كلام الله مجيد قرائت گرديد.

بعداً محترم قاضي القضات روي موضوعات و مسايل قضايي كشور صحبت همه جانبه نمودند كه در بخشي از سخنان خويش گفتند : در شرع كه به سبب اهميت و ارزش قضا در باره كفايت معيشت و ديگر ص ٤

نسبت تخلف از مقررات قوانين صحي :

تعدادي از دواخانه ها مسدود گرديد

كابل – باختر :

موظفين رياست قوانين صحي و بررسي تعداد از دواخانه ها را در مربوطات شهر كابل نسبت تخلف از مقررات وزارت صحت عامه براي مدت معين مسدود نمود. موظفين رياست قوانين صحي و بررسي وزارت ص ٤

كمشنري عالي ملل متحد :

با شفاخانه ميدان شهر مساعدت نمود

ميدان شهر – باختر

كميشنري عالي ملل متحد در امور مهاجرين اخيراً يكمقدار ادويه را به شفاخانه ميدان شهر مركز ولايت ميدان وردك مساعدت نمود .

به سلسله مساعدت هاي ص ٤

په اندونيزيا كې :

د ځمكې د ښويېدو له امله ۵۰ تنه ووژل شول

د بي بي سي راډيو د خبر له مخې د شوه د اندونيزيا د جاوا په ايالت كې سختو بارانونو په نتيجه كې را منځته هغې ځمكې د ښويېدو له امله چې ٤ مخ

اهالي ولايت لوگر:

آمادگي شانرا در رابطه به منع كشت كوكنار ابراز نمودند

لوگر – باختر

مردم ولايت لوگر ديروز طي اجتماعي آماده گي شانرا در به منع كشت كوكنار ابراز نمودند .

در اين اجتماع كه به ص ٤

په انگلستان كې :

د سخت اورښت له كبله زركلي اوبو لاندې كړل

د المان غږ راډيو د خبر له مخې هغه سخت توپان چې د اطلس له سمندر څخه په حركت كې دی پرون انگلستان او فرانسي ته ورسيد او د انگلستان په سيلاو څپلو ٤ مخ

پروتوكول اعمار تعميرات شركت ستراس با موسسه البيروني عقد گرديد

مزارشريف – باختر :

پروتوكول اعمار تعمير اداري و اتاقهاي رهايشي كاركنان شركت ستراس بندر آقينه با موسسه البيروني مقيم شهر شبرغان عقد گرديد.

بمنظور بهبود امور و فراهم آوري سهولت هاي لازم براي تجار ملي اعمار تعمير اداري و اتاقهاي رهايشي براي كاركنان شركت ستراس بندر آقينه در نظر گرفته شده و قرار داد اعمار آن اخيراً توسط محترم ملا تاج محمد ص ٤

په راتلونكې اوونۍ كې:

د فلج (گوزڼ) د واكسين دوهم پړاو پيل كيږي

شريعت : تاكل شوې ده په بول هيواد كې د فلج (گوزڼ) د مرض ناروغي پر خلاف د واكسين ملي كمپاين دوهم پړاو د راتلونكې دوشنبې په ورځ د شعبان د مياشتې په اوولسم تاريخ پيل شي. ٤ مخ

د امريكا جمهور رئيس ددغه هيواد له خلكو څخه وغوښتل چې په انتخاباتو كې دده

د امريكا د متحده ايالاتو جمهور رئيس بل كلنټن په دغه هيواد كې د جمهوري رياست له انتخاباتو څخه دوه ورځې مخكې د امريكا له خلكو څخه وغوښتل چې دده اوسنی مرستيال الگور ته رايي وركړي.

بل كلنټن دا ركنزاس ايالت د مركز ليټل راك په ښار كې چې دده ٤ مخ

په فلسطين كې :

د مسلمانو مبارزينو او صهيونيستي غاصبو تر منځ نښتې دوام لري

كابل – باختر :

د المان غږ راډيو د خبر له مخې له موقت اوربند سره – سره د فلسطيني مبارزينو او د صهيونيستي رژيم برغلگرو سرتيرو تر منځ نښتې دوام لري. ص ٤

په ارزگان كې :

د كوكنارو د كركيلې د بندولو په اړه غونډه وشوه

ترينكوټ – باختر :

د كوكنارو د كركيلې د بېخي بندولو په خاطر پرون د ارزگان ولايت د مركز ترينكوټ په ښار كې يوه غونډه ٤ مخ

وزارت معادن و صنايع ا.ا.ا الي اخير ربع دوم سال جاري از معادن جامد خويش :

مبلغ (۱۷۰) مليارد افغاني عوايد بدست آورده است

شريعت : خوانندگان محترم؛ خبرنگار ما اينبار از وزارت معادن و صنايع ا.ا.ا ديدن نموده است و با محترم قاري حمد الله معين آنوزارت در رابطه به چگونگي وضعيت فعلي معادن كشور مصاحبه را انجام داده است كه توجه تان را بدان جلب مينمائيم.

در آغاز محترم قاري حمد الله چنين گفتند : وزارت معادن و صنايع در بخش معادن كشور در ولايات كابل، هرات، خوست ، لوگر، ننگرهار، هلمند، كندهار، جوزجان، بلخ و بادغيس معروف فعاليت مي باشد.

وزارت معادن و صنايع تا اكنون معادن كروميت ولايات خوست و لوگر، معادن مرمر، تلك، شامقود، فلوريت، وگچ ولايت ننگرهار، معادن ياقوت، سنگ چونه، سنگ مرمر و شامقود ماهيپر ولايت كابل، معدن سنگ رخام را در ولايت هلمند، معادن نمك، گچ و مواد ساختماني را در ولايت هرات، معادن فلوريت و گچ را در ولايت كندهار، معادن گچ ولايت جوزجان، معادن نمك، مواد ساختماني سلفر و گچ ص ٢

په نايجريا كې :

د تيلو د ټانكر د ټكر له امله ۲۰۰ تنه ووژل شول

كابل – باختر :

د خبري منابعو د خبر له مخې د نايجريا د جنوب لويديځ په يوه ايالت كې له څو موټرو سره د تيلو د يوه ټانكر د ټكر او د هغه د چاودنې له امله څه نا څه دوه سوه تنه ٤ مخ

طيارات عراقي در منطقه ممنوعه :

پرواز هاى خود را از سر گرفت

به گزارش منابع خبري عراق كه پرواز هاي طيارات ملكي خود را در منطقه پرواز ممنوع در شمال و جنوب آنكشور از سر گرفته است وزارت دفاع ايالات متحده امريكا تهديد كرده است كه طيارات ملكي عراقي ممكن است هدف طيارات جنگي امريكا قرار گيرند . وزارت دفاع ايالات متحده امريكا اعلام كرد نيرو هاي هوايي آنكشور قادر به تشخيص طيارات نظامي و غير نظامي نيستند. وزير خارجه عراق در اين باره ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د سولې په هڅو كې د دريم گړو اخلاص او بې طرفي هم شرط دی

د تيرې جمعې په ورځ د ملگرو ملتو د خاص استازي فرانسيس ويندرل په هلو ځلو د افغانستان اسلامي امارت او مخالفينو يو ځل بيا د كشالې د سوله ايز حل لپاره د خبرو اترو په سر موافقه وكړه .

مشاغلو، ويندرل ته له دواړو خواو په ليكلې توگه داډ وركړل شو چې په راتلونكې اوونۍ كې به د نوموړې په منځگړتوب د خبرو اترو لړۍ پيل كوي او په اسانه ٢ مخ

شریعت

دتاسیس کال : ۱۲۷۴ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوي ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداری
پست بکس : (۴۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱ توزیع و شکایات : ۶۲۸۵۹
جاري حساب : ۴۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاڼې برخه

به له مرکې څخه نه وځي دا چې مخکې هم د ستونزې د هوارې لپاره څو ځله دا ډول هڅې شوې او هر ځل د بیلا بیلو وجوهاتو په بنا خبرې ناکامه شوې نو څرګندېږي چې موضوع پیچلې او له پردې لاس وهنې څخه ډېره اغیزمنه ده خو په هر صورت دا ځل به خبرې د ملګرو ملتو د څارنې او کتنې لاندې وي چې بیا هم د اسلامي امارت په وړاندې د نوموړې اداري دریځونه د یو لړ پوښتنو سره مخامخ دي برسیره پردې دا ګنګوسې هم شته چې ملګري ملتونه د راتلونکي کال لپاره د افغانستان څوکۍ یو ځل بیا مخالفینو ته ورکوي له بلې خوا مخالفین هم چې تل په پردیو مرستو او ملګرتیا ډېر حساب کوي په دې وروستیو ورځو کې د روسانو او نورو مغرضو هیوادو له خوا زیاته پام ګیرنه ورکړل شوې او په بولې مرستو او سوغاتونو نازول شوې هم دې نو دا چې له پورتنیو خبرو سره - سره بیا هم مخالفینو د سولې او خبرو اترو لپاره تیارې ښوولې، د پخوانیو تجربو په اساس ویلای شو چې په خبرو کې د یو څه غبتلې دریځ موندلو په خاطر به یو ځل بیا په جګړو لاس پورې کوي او د ځینو خبري سرچینو په حواله همدا اوس هم د جګړو او نویو بریدونو لپاره د مخالفینو تر منځ سلا مشورې رواني دي او دا ټولې هغه اندېښنې او ګواښونه دي چې د خبرو اترو دا لړۍ ورسره مخامخ ده مګر د افغانستان اسلامي امارت چې دا ټولې ناخوالې په ځیرکتیا سره څارې، په خورا اخلاص او جدیت د یو سوله ایز حل موندلو لپاره له خبرو اترو سره موافقه لري او ضمناً له مخالفینو څخه غوښتنه کوي چې د بهرنیو انډیوالانو له خوښې پرته په جرئت او زړورتیا د هیواد موجود واقعیتونه په پام کې ونیسي او د لکونو شهیدانو او مجاهدینو د ارمانونو تر سره کولو په خاطر له اسلامي امارت سره رښتینې ملګرتیا وکړي مخالفین باید د خپل میړني افغان ولس هیلې په نظر کې ونیسي او د نړیوال یهودیت او نصرانیت د ناخوښۍ او خوابدۍ څه پروا ونه ساتي . هغوی ته په کار ده چې نور د تیرو ترخو تجربو تکرار نه بلکې په داسې لارو غور وکړي په کومو سره چې په هیواد کې حاکم نظم لا سمون او پیاوړتیا مومي او د مرکزي حکومت په قوي کیدلو تمامیږي او له بلې خوا د بهرنیو شومو پلانونو پوره پوره مخه ونیول شي .

په دې ډول به نو رښتیا هم ټولې ستونزې هوارې او د هیواد سوکالۍ او نیکمرغۍ به منځ ته راشي همدارنګه ملګري ملتونه چې لوی نړیوال حیثیت لري باید د ولسونو له غوښتنې سره سم مثبت دریځ غوره او له داسې تګلارو ډډه وکړي چې د افغانستان ستونزې لا هم پیچلې او یا د جګړې د اوږدیدو باعث ګرځي .

نړیوالې ټولنې ته په کار ده چې په دقیق ډول خپله بې طرفي وساتي او په دې ډول د ټولو خواوو ډاډ تر لاسه کړي . اسلامي امارت به له خپل لوري په جدي ډول هڅه وکړي چې هیواد ته د راپیښو ګواښونو سره ښه په سنجیدګۍ او معقولیت سره چلند وکړي او د نورو ویښو له توییدو پرته په سوله او تفاهم د غو کشالو ته د پای ټکی کیږدي.

ستر بری؟!!

له لاهورنه خپریدونکی بیدار ډایجسټ پخپله نوې ګڼه کې یو رپوټ اوشمیرنه خپره کړې چې په نړۍ کې هرکال دځلوبښتولکو تورسرو له پیرلواو پیرودلو څخه پرده پورته کوي .د(ای، ایف. پی. این،این،ای)دریوټ له مخې چې په لندن کې خپورشوی دملګروملتونو د U.N.F.P.A په حواله لیکلي :هر کال دځلوبښتولکو په شاوخواکې تور سرې دفحاشي اومینځوپه بڼه پیرلې اوپلورلې شي.

زیاتره تورسرې دکاروبار د دروغجنووعدوله مخې دقاچاقبرانومنګولوته لویږي اوهغوی بیا دبهرنیوهیوادونوبازارونوته وړاندې کوي خو بوشمیردبیوزلې له امله په دغوقاچاقبرانوپلورل کیږي

له اسیایي هیوادونو د شپږ کروړه نجونو د ورکیدو احصائیه اخیستل شوې چې زیاتره یې د تایلند بازارونو ته رسیدلې دي هر کاله له بیوزلو هیوادونو په منځنۍ کچه پنځلس کروړه تور سرې د بنکاک او نورو هیوادونو فاحشه خانو ته تحویلیږي اووه زره نیپالي نجونې د هندوستان بمبئ او ډیلي ته تښتول شوې چې هلته د «جنسي صنعت» په نوم ځانګړي مارکیټ ورته پانیستل شوي دي.

(جنسي صنعت) ته له پنځو تر پنځلس کلنو نجونو اړتیا ده چې ددغه ناولي صنعت ډلومدار پرې تړلی دي.

بواځې په پاکستان کې تیر کال د یوزوو تور سرو د وژنې خبرو نه ورکړل شوې په چین کې له تیر اپریل راپه دیخوا د پولیسو له خوا یو لک او لس زره تور سرې میندل شوې چې د فحاشې اډوته تښتول شوې وې.

سړی نه پوهیږي لویدیځ او ملګري ملتونه د بشر حقوق څه ته وایي او د ښځو د حقو ملاتړ او ننګه ورته څه معنا لري؟

په دې اړه د ملګرو ملتونو دنده او مکلفیت دا دي چې احصائیې او ارقام خپاره او رپوټونه وړاندې کړي !

د جنسي صنعت وده او یوې متاع په څیر د تور سرو پیرل او پلورل لکه چې د تور سرو پر حقوقو یلوسه او تیری نه ګڼل کیږي.

خپله د جنسي صنعت اصطلاح

دتور سرو د حیثیت او حقوقو ، پر ضد یو داسې ګواښند ، ګام دي چې له بشري کرامت سره د دښمن هغه ډېر دردوونکی اړخ څرګندوي. له بده بخته دغه اداري په ظوهروکې ښکیل دي، او هغو ربړو او ستونزو ته یې تر اوسه هم لازمه پاملرنه نه ده کړې چې تور سرې په دریمه نړۍ کې ورسره مخامخ دي. ځکه خو ښایي په لویدیځ کې چې د ژوند لومړنۍ اړتیاوې بشپړې شوې او دریمې نړۍ له هیوادونو او هغه چې جګړو او بې ثباتیو ځپلې د لومړنیو اړتیاوو او ضرورتونو تر منځ د توپیر غور وشي.

په دریمه نړۍ په تیره جنګ ځپلو هیوادونو کې تر هر څه د مخه د سولې، امنیت او سیاسي ثبات اړتیا ده، د لوږې او فقر سره د مبارزې اړتیا ، په دغو هیوادونو کې ښایي تاریخه هم تر اوسه خپلو هغو حقوقو ته چې لویدیځ یې غواړي او فکر کوي نه وي رسیدلې او ډېره لار ورته پاتې وي .

که په مجموع کې د یوه هیواد اقتصادي، سیاسي او ټولنیزې ربړې حل شي په هماغه پرتله د اتباعو د حقوقو ربړه هم ورسره حل کیږي ، دا ناشونې ده چې د افغانستان په څیر د دوولسیزو جګړو ځپلې هیواد چې اقتصادي ، سیاسي او ټولنیزې ستونزې یې له شمیرې وتلي یو په یو هغسې حقوق تر لاسه کړي چې لویدیځ خپل کړي دي په مصر کې تور سرو ته دا حق !! هم ورکړل شو چې د خاوند له خوښې پرته بهر ته سفر کولای شي چې د ښځو د حقوقو مدافعانو خپل ستر بری بللی خو دا چې دغو سازمانونو د مصر د هغو بیوزلو تور سرو لپاره څه کړي چې په هوټلونو، کارخانو او کورونو کې د رنو او سختو مزدوریو ته اړې دي او له لوږې، رنځونو او فقر سره لاس او ګریوان دي پوښتنه په همدې ټکي کې ده که دغه ربړې حل شوې وای دا به په رښتیا هم د ښځو د حقوقو د مدافعانو ستر بری ګڼل شوی و .

دهیوادوالو بوختولو لپاره یو ښه تدبیر

لاروي

غالباً دا مقوله مې ډېره پخوا اوریدلې ده چې وایي د بې کاره سړي ماغزه د شیطان ځاله وي او دا ځکه چې کله سړی په یوه کار نه وي بوخت نو شیطان فکر کوي چې همدا مهال به یې زما وسوسې ډېرې ښې په زړه پر بوځي خو بر عکس بیا د کار او بوختیا په وخت زیاتره وسوسې بې اغیزې وي زمونږ ګران هیواد وال هم چې د روسي یرغل په وخت کې زیاتره په جګړو بوخت و او د خدای«ج» فضل دی اوس د هیواد په زیاته برخه کې کراري او امنیت دی او بواځې په محدودو کرښو کې جګړې رواني دي نو ځکه یو ځل بیا زمونږ ډېر ځوانان او د کار وړ خلک څه خاص کار روزګار نه لري او ډېر یې دې خبرو ته ناست دي چې امریکا څه وایي ؟ لویه جرګه څرنګه شوه ؟ او سم حکومت به کله جوړیږي ؟ نو ددې لپاره چې له یوې خوا مو خپلو زرګونو بې روزګارو هیواد والو ته ښه اغیزمن کار پیدا کړی وي او له بلې خوا د هیواد کرنیز پیداوار وده او پرمختګ وکړي نو ښه به دا وي چې د اسلامي امارت مسئولین د یو مناسب پلان له مخې د هیواد شاړې ځمکې او ډاګونه پر هغو خلکو وویشي چې سیمې یې غرنۍ او د کرنې وړ ځمکې نه لري او دا یو واقعیت هم دی چې د غرنیو سیمو خلک کرنیزې ځمکې خو لا پریږده چې د یوې کوټې د جوړولو ځای هم نشي پیدا کولای .

ددغه شان خلکو شمیر هم زیاته ډېر دی او لا یو زیات شمیر یې د هجرت له کمپونو هم بیرته هیواد ته ځکه نه راستنیږي چې په وطن کې نورې ځمکې څه چې لا د کور جوړولو ځای نه لري هغوی خواوان منتظر دي چې کله به اسلامي امارت مونږ ته ځمکې راکوي چې هم کورونه پکې جوړ کړو او هم دغلو دانو څښتنان شو خو دا چې زمونږ هیواد وال د جګړو او هجرت ستونزو ډېر ځپلي نو دا هم نه شي کولای چې خپلې غوښتنې د امارت د مشرانو تر غوږو ورسوي او د خپلو ستونزو په هکله خبرې ورسره وکړي مګر دا څرګنده ده چې له ټولو سره همدا یوه پوښتنه ده چې زمونږ حکومتونه به دا پلن ډاګونه څه وخت را ویشي تر څو خلک یې د پنځو او لسو کورو په ملګرتیا خپلو کې سره ودان او سمسور کړي نو که سړی ځیر شي د خلکو دغې غوښتنې ته حکومتونه چندان عذر هم نه لري، ځکه وایي چې مونږ یې په خپلو متو او ځاني لګښت آبادوو او له حکومت نه صرف دا غواړو چې د ویشلو انتظام جوړ کړي . بلکې لا په دې ډول به حکومت ته یو څه نوري پیسې هم لاس ته ورشي . له بلې خوا که سړي د خصوصي پانګوالو فعالیتونه وګوري نو هغوی هم چې دحالاتو د غوښتنې سره سم په کومه برخه کې پانګې اچولې دي، اوس ښځې د هیواد په اقتصادي پر مختګ کې مثبتې اغیزې نه لري مثلاً زیاترو سوداګرو خپلې پانګې د موټرو په واردولو کې اچولې دي حال دا چې موټر یو استهلاکي شی او د هیواد په ودانولو کې څه خاص رول نه لري نو که نوموړې پانګې د شاړو ځمکو په ودانولو کې مصرف شي په یقیني ډول به ډېرو خلکو ته روزګار پیدا او ملکي پیداوار به زیات شي . د اسلامي امارت چارواکي باید په دې برخه کې ښه غور او ځیرنه وکړي او د خلکو د ستونزو حل کولو لپاره مناسب ګامونه واخلي.

وزارت معادن و صنایع...

ولایت بلخ و معادن نمك اندخوي ولایت فاریاب را مورد بهره برداري قرار داده است .

نامبرده علاوه کردند: همین اکنون در معادن که تذکر داده شد کار تولیدي جریان دارد معادن مذکور یا از طریق خود کارمندان وزارت معادن و صنایع و یا از طریق قرار داد با متشبثین خصوصي طور مشترك مورد استفاده قرار داده شده اند.

وي اضافه کرد : وزارت معادن و صنایع الي اخیر ربع دوم سال جاري صرف از بخش معادن جامد به استثناي معادن ذغال سنگ مبلغ ۱۷۰ ملیارد افغاني عواید بدست آورده است.

دراخیر محترم قاري حمد الله افزودند : چون معادن از لحاظ اقتصادي ستون فقرات یك کشور را تشکیل میدهد و بدون رشد اقتصادي یك کشور نمیتواند در جهت رشد اجتماعي به پیش برود بناً وزارت معادن و صنایع مصمم است تا معادن کشور را بیشتر از پیش مورد بهره برداري قرار داده و زمینه هاي رشد بعدي کشور را در تمام عرصه ها مهیا نماید.

حمید الله شبنم عالمي

ارتباط متعلمین با مدرسه و اقارب توسط انترنت

یك شرکت ایتالوي با ایجاد یك ساید شبکه انترنت با والدین متعلمین در مکاتب و مدارس ارتباط بر قرار مي کند درین ساید نام تمام متعلمین مکتب سوابق تحصیلي آن ها نمرات آن ها تاریخ حضور و غیابت آنها در صنف و مکتب وجود دارد هر یك ازاین متعلمین رمز خاص خود را دارند که والدین پس از ورود به ساید و وارد کردن رمز خاص فرزندان شان مي توانند از وضعیت آنها آگاه شوند با ایجاد این ساید متعلمین نمیتوانند از مکتب و مدرسه فرار کنند یا نمرات خود را از والدین شان مخفي سازند البته والدیني که آگهي به کمپیوتر یا دسترسي به انتر نت ندارند مي توانند به مکاتب مراجعه کنند و از اوضاع تعلیمي فرزندان شان آگاهي حاصل کنند اعضاي خانواده های متعلمین در ایتالیا ازین اختراع استقبال کرده وآنرا برای آگاهي شان از طرز زندگي وضع تعلیمي اولاد هاي شان در ساحه مکتب وسیله خوبي دانسته اند.

تودوخه څومره زیاته شوي ؟

د همالیا غره د یخی یوی لویی توتی د یوی برخی نه دا څرګنده شویده چی څرنګه په تیرو پنځو سو کلونو کی د ځمکی اقلیم په چټکی سره تود شویدی. د یخی یوه برخه د تیری زمانی بیولوژیکی شواهد په لاس راکوی چی سیمه ییز اقلیم کی په تیرو زرو کلونو کی څومره بدلون راغلی دی . دغه شواهد د چین او امریکا ساینس پوهانو تر لاسه کړیدی چی د ساینس ژورنال په وروستی ګڼه کی چاپ شویدی دوی وایی چی د کلونو راهیسی ساینس پوهان د ځمکی په لرو پرتو سیمو کی د یخی په لویو توټو کی د تیرو وختونو د اقلیم هغه شواهد تر لاسه کړی چی د یخی په رګونو پټ شویدی په دی هکله دغه وروستی څیړنی د امریکا او چین د ساینس پوهانو له خوا په تبت کی تر سره شویدی.

ساینس پوهان له دی لاری کولی شی د خاورو او مالګو د ذرو او دموجود هایدروجن او نایتروجن د بیلو بیلو ډولونو تر څیړنی وروسته دا معلومه کړی چی د یخی د جوړیدو په مهال د تودوخی درجه څومره وه . له دی لاری دا هم معلومیدی شی چی کله د وچی بارانونه وشول او کله وچکالی راغلی.

داسی بریښی چی د پرله پسی تیرو کالو له پاره سخته وچکالي دوه سوه کاله مخکی راغلی وه چی ښایی دایزمینو له کبله د سهیلی امریکا د لویدیځ ساحل نه د بحر الکاهل تودوالی ښه وی خو په دی څیړنو کی یوه بنسټیزه پوښتنه دا ده چی ایا ترپوله تودوخه یوه طبیعی پیښه ده که د انسانی فعالیتونو له کبله را منځته کیږی .

ساینس پوهان باور لری چی په تیرو سلو کلونو کی د یخی په جوړوشویو ورغونو کی د خاورو او کلو رایدو شته والی چی د تودوخی نښه وی په ډاګه ښیی چی د ځمکی د تودوالی پړه د انسانانو په غاړه ده .

وسایل جدید کشف مواد مخدر

پولیس امریکا وسایل جدید کشف مواد مخدر و اسلحه را در ده میدان هوایي بین المللي آن کشور نصب کرده است این دستگاه با تولید اشعه ایکس ضعیف کلیه اشیا و موادي را که مسافران مخفي کرده اند شناسایي و برملا میسازد ماموران این دستگاه مي توانند مواد منفجره اسلحه و مواد مخدره و همچنان مسافرانیکه این مواد را همراه داشته باشند از طیاره فرود آوردند.

کار کنان حقوق بشر در امریکا با نصب این دستگاه ها در میدان هاي هوایي امریکا اعتراض کرده اند . آنها معتقدند چنین باز رسي ها تجاوز بر حقوق شخصي افراد است به همین دلیل پولیس امریکا براي نصب این دستگاه در تمامي میدان هاي هوایي این کشور تصمیم قطعي نگرفته اند.

د ایاز ګیله !

ملا محمد اصغر «کاکف»

وایی چی ایاز له رنګه تور بخون مګر نوره قیافه او د بدن غړی یی ښه موزون و ، څیرک او نازک خیاله ځوانکی و له مور او پلاره لا پخوا یتیم پاتی شوی و کلی کور یی هم چاته نه و معلوم نو همدا لامل دی چی خلک ورته غلام وایی کنه نو داسی یوه سترګو منلی څیره ، هوښیار او څیرک ځوانکی خو به د یو ستر او نومیالی کاله په غولی کی لویېده خو د ایاز تالی بیا هم ښی وی چی د سلطان محمود غزنوی غوندی بختور نغری ته چا راوست .

څیرکی هوښیاری او غیرت د ایاز د خلقت په خټه کی اخښل شوی و دده ظاهری او باطنی حسن او ښکلا حیرانوونکی وه او د بخت ستوری یی هغه مهال لا ښه و ځلیده چی د سلطان محمود غزنوی په بندیخانه کی یو تن بندی کړل شوی هندو شاعر دده په ستاینه د شعرونو یو بشپړ کتاب ولیکه او بیایی سلطان محمود غزنوی ته ډالی کړ ، هندو شاعر له دی کتابه دوه ګټی لاسته راوړی یوه دا چی ځان یی له بندیخانی وړاندی راوویست او بل دا چی د دربار له پیاوړو شاعرانو څخه وګڼل شو . ایاز د خپلو ښو صفتونو له امله سلطان محمود غزنوی ته ډیر ګران او لاوړ دی شو او دومره ورته منلی شو چی زړه یی وړاندی یابلود نو ځکه کینه ګر و ته مو که په لاس ورغله او په دواړو پسی به یی د عاشق او معشوقی خبری کولی .

ایاز یو عادت لاره چی کله به یی د دربار چاري سرته ورسولی نو په ځغاسته به هغه باغ ته ورته چی ګنی ونی یی درلودی او په منځ کی یی یوه ښکلی کوټه وه ده راکوټه نوره هم ښکلی کړه ښه ډیر لګښت یی پری وکړ ، شاو خوا ته یی ښه سیا چه (چوتره) جوړه کړه او په څنډو کی یی راز راز ګلان وکرل کینه ګرو داسی آوازی خپری کړی چی سلطان محمود غزنوی د خزانی واک تور ایاز ته ورسپارلی ، هغه ټولی طلاوی ، نقری ، سپین او سره ورځنی غلا کړی او د باغ په کوټه کی یی ساتلی کنه نو تاسو ورشی په ټول تللی دوه پاوه د طلا کلپ یی دروازی ته وراچولی دی دا آوازی د هر چا غوږونو ته ورسیدی ان تر دی چی خپله سلطان محمود غزنوی او د هغه وزیران هم وړاندی خبر شول چی په دی خبرو به ایاز هم ډیر کریږده او غلی غلی به ګرزیده بله ورځ محمود غزنوی په ډاګه اعلان وکړ چی ټول خلک دي را غوند شي اوزما په وړاندي دي په ایاز باندي د غلا ثبوت وکړي چی سمه سزا ورکړم د محمود غزنوی په دي اعلان سره کینه ګر ډیر خوشاله شول او دربار ته راغلل ، محمود غزنوی له هغوی څخه وپوښتل چی تاسو د ایاز په غلا څه ثبوت لری ؟ هغوی غاړی تازه کړی او د سلطان صاحب په ځواب کی یی وویل چی مونږ په دی باوری یو چی ایاز طلاوي او نقری غلا کوی او د باغ په کوټه کی یی ساتی ! سلطان محمود غزنوي وپوهیده چی دا ټول ناپوهان دی کینی یی سترګی ورپټی کړی او عقل یی ور زیانمن کړی دی نو یی امر ورته وکړ چی سملاسی ولاړ شی د ایاز د باغ کوټه ماته کړی او ټولی طلاوی نقری چور کړی سمی نیمی یی د تاسو دی سر یو چی دا خبره واوریده نو په ډیره خوشالی یی د باغ په لوری منډی کړی ایاز هم تر شا پسی غلی روان دی کوم یو مخ ورته رااړوی ورته وایی راځه را پسی اوس به دی چاره وکړو مګر ایاز چاته خو له هم نه پرانیزی چی تاسو څه کوی او څه وایی ؟

خلک د ایاز د باغ کوټی ته ورسیدل ، د کوټی دڅرازه یی په ډیر کبر او غرور ماته کړه ورننوتل چی ګوری تش غولی دی هیڅ نښته یوازی یوه منبلی چینه د دیواله په یوه میخ راځورنده ده آخر یی د کوټی بو او بل ګوټ په بیسو نو او چاری ګانو ژوړ کړ ټوله کوټه یی لاندی باندی ولټوله مګر هیڅ په لاس ور نه غلل ټول حیران او تش لاس و ډیر ځوریږو سره پیدا شوه چی ، اوس به سلطان محمود غزنوی څه ځواب وایو ؟ ایاز چی دا ټولی ناځوانی په سترګو وینی او بیا د دوی ناکامی هم ګوری غلی ولاړ دی چاته غږ هم نه کوی لنډه دا چی ټول په خواشینی او ناکامی سره دربار ته په ټیټو سترګو راستانه شول دلته د ښار نور خلک هم راغونډ شوی او انتظار باسی چی د ایاز د غلا په کوټه اشر تللی اوس به پنډ پنډ طلاوی ، نقری ، سپین او سره راوړی او د سلطان محمود غزنوی په مخ کی به غل او ناځوانه ایاز په شرمو شرمیږی.

خلک ستړی ستومانه او خواشینی دربار ته راورسیدل او ایاز یی هم تر شا غلی را روان دی له سلام اچولو وروسته سلطان محمود ور څخه وپوښتل : د طلا او نقرو پیټی مو څه کړل ؟ هغوی په ډیری وارخطایی ورته وویل : صاحبه ! هیڅ نه و یوازی یوه موښلی (مستعمله) چینه راځورنده وه سلطان محمود غزنوی ته چی مو که په لاس ورغله نو ښه بر یی پو ډچلاوه او په تینګار سره یی ورته وویل چی سابه مو مخکی ته پری نږدم هلی راوړی طلاوی ، نقری سپین او سره راوړی مګر د هغوی له سترګو اوښکی بهیږی او په عذر سره ورته وایی هیڅ نه و او مونږ وینیه ، سلطان محمود غزنوی به په زړه کی څه په تمه شوی وی چی یو خو حقیقت روښانه شو او بل به اوس د ما په دغو ستغو خبرو چی کینه ګرو ته می وکړی ایاز هم خوشاله شوی وی چی دومره بی بس دی که پوهیږی.

خو ایاز بیا داسی مورنه دی زیرولی ، ایاز په ډیرو مودبانه الفاظو خوله پرانیسته : صاحبه ! دا خو څرګنده شوه چی زه غل نه یم نو اوس به لاس پورته کړم چی دغو کینه ګرو ته دی خدای «ج» خیر ورکړی چی تاته یی زما د ګران پلار هغه چینه یاده کړه چی ماته په میراث راپاتی ده ما خپل تیم ژوند له تاسره تیر اوه او نیمه برخه نور می د خپل پلار له میراثی چپنی سره . ما چی څومره زړه ور پوری خوړلی او دامی ساتلی او لګښت می ورباندی

کړی دا لا کم دی نو که پلار می راته ژوندی وای ما به یی څومره خدمت کړی و. مینه دی منم خو په زړه سوی دی باور نلرم-دا هر څه چی راته پیښ شول ستا پېرزوینه بی ګنم.

داصحابو دژوند پلوشی ۳۵

مؤلف : دکتور عبدالرحمن رأفت باشا - مترجم : بشار

زیدالخیر

دا دی تاسو ته د یوه لوی صحابی دوه حالته بیانوو چی لومړی یی دجاهلیت لاس دی ، او بل یی د اسلام ګوټی دی چی څرګندی شوی دی.

دغه صحابی زید الخیل دی.

څنګه چی خلکو دغه صحابی په جاهلیت کی په زید الخیل - سره یادا وه ، رسول الله «ص» هغه د اسلام له منلو وروسته په زید الخیر سره یاد کړی دی.

د ادب کتابونه د دغه صحابی لومړنی حالت داسی بیانوی :

شیبانی د بنی عامرو له یوه سپین ږیری څخه حکایت کوی او وایی : پر مونږ وچکالی راغله ، او زمونږ کښتونه او څاروی له منځه لاړل ، په دغه وخت کی له مونږ څخه یو سړی د خپلی کورنی سره حیری ته وکوچید ، او خپله کورنی یی هلته پریښوده او ورته یی داسی وویل : تاسی زما په انتظار کی اوسی څو تاسی ته بیرته راستون شم.

بیا هغه سوګند وکړ چی څو مال ونه ګټم او یا مړ نشم زه به خپلی کورنی ته بیرته ستون نشم.

دغه سړی د ځان سره توښه واخیستله ، او چی ده یوه ورځ پوره لاړ ووهله نو شپه وربانډی راغله او یوه خیمه یی ولیدله چی هغی ته نږدی یوه بیانه تړلی شوی وه نو ویی ویل : دا لومړی غنیمت دی.

هماغه و چی سړی بیانی ته ورنږدی شو او د هغی په پرانستلو شو ، او بیا چی هغه یی پرانستله او پر هغی په سپریدلو شو نو یو غږ یی واورید چی ورته یی داسی ویل :

بیانه پریږده او خپل ځان دی په غنیمت بوسه.

بیا هغه بیانه پریښوده ، او خپله لاره یی ونیوله .

سړی دا وو ورځو لاړو وهله تر دی چی یوه ځای ته چی هلته د اوښانو د پنډیدلو ځای و ورسید ، هلته یوه لویه کیږدی ولاړه وه او په هغی کی د څرمنی قبه وهلی شوی وه چی دغه ټول ، په ډیری شتمنی او نعمت باندی دلالت کاوه .

سړی پخپل زړه کی وویل : خامخا دغه ځای لره اوښان ، او دغی کیږدی لره خلک شته .

بیا یی د کیږدی دننه ته چی لمر په پریوتلو و وکتل ، وینی چی د هغی په دننه کی یو سپین ږیری ناست دی نو د هغه شاته چی وربانډی هیڅ یوه نشو کیناست.

څه وخت لا نه و تیر شوی چی لمر پریوت او په تن یو غښ ځوان پر لوړ آس سپور راغی او د هغه په ښی او کیڼ لور دوه مریان پلی روان و او د سلو اوښانو په شا او خوا کی ورسره د اوښانو تر مخه یو لوی مایه اوښ و او بیا چی دغه اوښ چو شونو دهغه تر څنګه یوه اوښه هم چو شوه .

بیا دغه ځوان د مریانو یوتن ته وویل : دغه اوښه ولشه ، (هغه یوی چاغی اوښی ته اشاره وکړه) او شیدی یی دغه سپین ږیری ته ورکړه چی وی چښی . مریی اوښه ولشله تردی چی لوښی ډک شو ، او بیا یی د سپین ږیری په مخکی کیښود ، او بیا ور څخه په څنګ شو.

سپین ږیری له شیدو څخه یو یا دوه غړ په وکړل او پاتی یی کیښودلی .

سړی وویل : زه ورو ورو چی هغه یوه نشو ورنږدی شوم او لوښی می واخیست او د هغه ټولی شیدی می وچښلی .

بیا مریی راغی او لوښی یی واخیست او ویی ویل : ای بادار! هغه ټولی شیدی وچښلی . ځوان خوشحاله شو او ویی ویل : دغه اوښه ولشه (ځوان بلی اوښی ته اشاره وکړه) او لوښی یی د سپین ږیری په مخکی کښیوده .

مریی د بادار امر تر سره کړ بیا سپین ږیری ور څخه یو غړپ وکړ او نوری یی کیښودلی.

ما لوښی واخیست او د هغه څخه می نیمی شیدی وچښلی او ټولی می ونه چښلی او دا په دی چی که ټولی وچښم نه چی د ځوان شک پیدا شی.

بیا ځوان دویم مریی ته د پسه د حلالولو امر وکړ ، مریی پسه حلال کړ ، او بیا ځوان د پسه څه غوښه کبابه کړه او بیایی سپین ږیری ته ورکړه تر هغه چی سپین ږیری موړ شو . بیا ځوان د خپلو دوو مریانو سره غوښه وخوړه او بیا چی څه لږ وخت تیر شو ټول د خوب په ځایونو کی پریوتل او او ده شول تر دی چی د هغو د کلک خوب سونګهار او خراری تر غوږه شو .

پاتی لری

راغلي ليک

د شریعت اوونیزې قدرمنې اداري ته !

السلام علیکم و رحمت الله و برکاته

شریعت اوونیزه کله نا کله زموږ لاس ته رارسیږي په رښتیا چې ټول مضامین یې په زړه پورې او د لوستلو وړ دي په ځانګړې ډول راغلي لیک، ځکه چې یې له کومه توپیره د خلکو د خوښې انتقادونه په کې خپرېږي نو ځکه یې ما ته هم دا جرئت راوبانه چې قلم راواخلم او د خپل زړه غم درسره شریک کړم.

لکه څنګه چې ټولو هیوادوالو ته معلومه ده په تیره شل کلنه غمیزه کې په نورو ګڼ شمیر خرابیو سربیره زموږ د هیواد لویې لارې او سړکونه هم خراب شوي دي.

خو د پاک الله «ج» په فضل سره په هیواد کې د اسلامي امارت په ټینګښت سره د بیا رغونې کارونه په پراخه پیمانه پیل شوي دي چې په هغو کې د کابل ، قندهار د لویې لارې په پاخه او اساسي ډول جوړ ونه په مهمو قدمو کې شمېرل کیږي چې له کابل څخه د میدان او غزني په لور کار ښه په بیړه روان دي د فوايد عامې وزارت یو ټیم له قره باغ سره هم د پاخه سړک داغ ګیري کوي چې د وسایطو له اړخه ښه قوي ټیم دی خو کاریې بیا د وسایطو په پرتله ډیر کمزوری او شاته پاتې دی که د فوايد عامې وزارت خپل د څارنې هیئت ورولیږي او د هغوی د تیرو د رې یا څلورو میاشتو کار په خپله وګوري نو دا به د هغوی لپاره د هغوی د اړوند کار په چټکتیا کې ښه ګټور واقع شي .

محمد ایوب «قلم یار»

د غزني له قره باغ څخه

ګرانه وروره محمد ایوب جانه! ستاسو رالیږل شوی لیک مو کټ مټ خپور کړ هیله ده چې د فوايد عامې وزارت مسؤلین په دې اړوند لازم اقدام وکړي.

اداره

مخالفین د ...

دوی د ملاتړ لپاره وکارول شي. که څه هم چې د مخالفینو دغه پوځي تحرک د اسلامي امارت د ځواکونو په مقابل کې له نظامي پلوه د هیڅ اهمیت وړ ندی خو د ملګرو ملتو د سولې د هغې پروسې چې همدا اوس یې تر لاس لاندې نیولې د ګډوډۍ سبب ګڼبدې شي . دا لومړی ځل نه دی چې مخالفین له فرصت نه په ګټې اخیستو سره په دا ډول اقدام لاس پورې کوي بلکې هغوی مخکې هم له ډیرو داسې مواقعو نه په استفادې سره ورته حرکات تر سره کړي . د نوموړو دا حرکات د سیمې د خلکو د سختو اندیښنو لامل ګرځېدلې او له همدې امله د دوی تر کنټرول لاندې سیمو ته هره ورځ یو زیات شمیر کورنۍ خوندي سیمو ته د مهاجرت لاره غوره کوي .

له بلې خوا د مخالفینو تر کنټرول لاندې سیمو کې د خوراکي توکو نشتوالي او قیمتۍ هم خلک له سختو ستونزو سره مخامخ کړي .

په فلسطین کې ...

د رارسیدلي رپوټ او د صهیونستي رژیم د پوځي مقاماتو په تایید اسرائیلي ټانکونو داریحا او د تولکرم په ښارونو کې په هغو فلسطیني مبارزینو باندې ډزې وکړې چې د اسرائیلو د وسله والو سرتیرو په وړاندې په تښو لاسونو سره د خپل هیواد دفاع کوي.

په انتخاباتو ...

پلرنۍ ټاټوبی دی وویل : الګور د امریکا په متحده ایالاتو کې د اوسنی اقتصادي حالت د دوام لپاره لازمه وړتیا تجربه او اراده لري.

اوسنی ټول پوښتنې ښیي چې د جمهوریت غوښتونکي ګوند کاندید جورج ډبلیو بوش په سلو کې ٤٧ رایې ګټلي خو د امریکا د متحده ایالاتو د جمهور رئیس اوسنی مرستیال او ددغه هیواد دموکرات ګوند کاندید الګور په سلو کې د ٤٦ رایو په لرلو سره په خپل سیال باندې یو څه مخکې دی.

اطلاعیه ریاست عمومي مبارزه با جرایم جنایي

موظفین تعقیب ریاست عمومي مبارزه با جرایم جنایي دو نفر کیسه بر را که مبلغ بیست و پنج لك افغاني را دیروز از نزد یکتن از هموطنان ما در ساحه پل باغ عمومي سرقت نموده بودند در ساحه جاده نادر پشتون گرفتار و به پنجه قانون سپرده شد.

مالك پول میتواند با ارائه نشاني پول خویش را از مدیریت تعقیب ریاست عمومي جنایي تسلیم شود.

په نایجریا کې ...

ووژل شو ل.

د فرانسې د خبري آژانس د خبر له مخې د نایجریا د پولیسو ویندوی اعلام وکړ چې دغه پیښه د تیلو د ټانکر له چلونکي څخه د هغه د کنټرول د وتلو له امله را منځته شوه .

او په نتیجه کې یې لس موټرو له یو بل سره ټکر وکړ.

د پولیسو ویندوی زیاته کړه د تیلو ټانکر د سړک پر مخ د تیلو له توېدو څخه یوه شیبه وروسته اور واخیست او وچاودید .

د فلج (ګوزڼ) ...

ددې کمپاین په هکله تیره ورځ د کتلوي معافیت په مرکز کې یوه تبلیغاتي غونډه جوړه شوې وه چې پکې د اړوندو مسؤلینو له خوا ددغې ناروغۍ او د هغې د واکسین په هکله خبرې اترې وشوې.

د خبرو په وخت ډاکټر فیاض احمد هیله څرګنده کړه چې باید ټول هیواد وال د واکسیناسیون ددغه ملي کمپاین په بریالیتوب کې پوره ونډه واخلي او خپل هغه ماشومان چې عمر یې له پنځو کالو کم وي واکسین کړي . البته دغه واکسین پر مریضو یا له حده زیاتو وړو ماشومانو هیڅ کومه بده اغیزه نکوي، که یو ماشوم فلج هم وي باید واکسین ورته تطبیق شي ځکه د ګوزڼ (فلج) ویروس په درې ډوله دی که یو ماشوم په لومړي ډول ویروس مصاب شوی وي نو د دوهم او دریم ډول ویروس د حملې امکانات د نورو په نسبت په هغه کې ډیر دي. او بل دا چې د لومړي پړاو په تطبیق سره په ماشوم کې د فلج (ګوزڼ) خلاف هیڅ معافیت نه تشکیلیږي.

او د دوهم پړاو په تطبیق سره واکسین په ماشوم کې د فلج خلاف ۲۵٪ معافیت تشکیلوي . او دریم پړاو په تطبیق سره واکسین په ماشوم کې د فلج خلاف ۵۰٪ معافیت تشکیلوي . او څلورم پړاو په عملي کولو سره واکسین په ماشوم کې د فلج خلاف ۸۰٪ معافیت رامنځته کوي.

نو ځکه د خلکو لپاره دا لازمه ده چې خپل ماشومان په یوه یاد وو ځلو ځاځکو ورکولو پرې نږدې بلکې په کار ده چې ټولو پړاوونو کې خپلو ماشومانو ته د ګوزڼ واکسین ځاځکي ورکړي ځکه چې په یوه یا د وو ځلو سره د دغه مرض مخنیوی ممکن ندی او بل دا چې هیواد وال باید یوازې په دې کمپاین اکتفا ونکړي بلکې د کمپاین سره - سره د روټین یعنې نږدې کلنیک د کارت له مخې خپلو ماشومانو ته د ټولو وژونکو مرضونو پر خلاف واکسین د کلنیک د لارې هم په سم تطبیق کړي . نو موږ د ټولو جوماتونو د امامانو ، د مدرسو د استادانو او د کوڅو د وکیلانو څخه جدي هیله کوو چې خلکو ته د واکسین اهمیت بیان او دې ته یې وهڅوي چې خپلو ماشومانو ته واکسین تطبیق کړي، چې دغه ناولې ناروغي زموږ له ګران هیواد څخه په بشپړ ډول ختمه شي.

محمد رفیق عزت

په ارزګان کې ...

جوړه شوه .

په دې غونډه کې د ارزګان ولایت کفیل محترم مولوي عبدالمجید د عالمانو شورا رئیس محترم ملا فیض الله اخند ، د استخباراتو رئیس محترم مولوي لعل محمد او ددغه ولایت یو شمیر نورو عالمانو او چارواکو د کوکنارو د کرکیلې د بندولو په اړوند د عالیقدر امیر امیر المومنین د **فرمان د اخلاقي** او ټولنیزو **ارزښتونو په باب خبرې وکړې او ویناوالو ددې غوښتنه وکړه چې ددغه فرمان له مخې د کوکنارو د کرکیلې د بیخي بندولو او مخنیوي په لاره کې هر اړخیزې هلې ځلې وکړې او له اسلامي امارت سره له هیڅ راز همکارۍ څخه ډډه ونه کړي.**

سنگ تهداب مدرسه ...

جمع کثیري از اهالي آن منطقه تدویر یافته بود عده از علماي کرام و موسفیدان آن ساحه در رابطه به فضیلت تعلیم و تربیه صحبت نموده اعمار مدرسه متذکره را اقدام نیك خواندند.

مدرسه متذکره به کمك مالي اهالي پنجرخي در یك طبقه بطور پخته و اساسي در ساحه یکصد جریب زمین که از طرف وزارت زراعت وقف گردیده است اعمار میگردد.

د سخت اورښت له ...

سیمو کې د حالاتو د خرابوالي سبب شو . د انګلستان په لویدیځ کې د ګلاسکو ښار له سخت توپان او باران سره مخامخ شویدی د پارک په ښار کې لږ تر لږه زر کلي اوبو لاندې کړي. په انګلستان او ویلز کې ټوله شپږ سوه ټوټې ځمکه اوبو لاندې کړیده .

په اندونیزیا ...

کې کابو پنځوس تنه وژل شوي او په لسګونو کلي تر خپو لاندې شویدي.

د سیمه ییزو مقاماتو د څرګندونو له مخې په لسګونو کلي سخت ویجاړ شویدي او د موټرو سړکونه تړل شویدي.

ددغو مقاماتو د څرګندونو له مخې د ژغورنې کار کوونکې ددغې طبیعي پیښې د قربانیانو د مړو د ایستلو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکوي چې تر خاورو او ختو لاندې شویدي.

دا د تیرې یوې اوونۍ په اوږدو کې د جاوا په ایالت کې د ځمکې د ښویدو دویمه پیښه ده .

با شفاخانه میدان ...

صحي به شفاخانه ها از سوي موسسات خیریه بین المللي اخیراً کمیشنري عالي ملل متحد در امور مهاجرین یك مقدار ادویه را به شفاخانه میدان شهر مرکز ولایت میدان وردك مساعدت نموده که ادویه متذکره اخیراً توسط محترم داکتر عزت الله معاون ساحوي آن کمیشنري به محترم مولوي لعل محمد رئیس صحت عامه ولایت مذکور تسلیم داد که با ابراز تشکر پذیرفته شد.

آمادگي شانرا در ...

اشتراك علما و عده یي از مسوولین آن ولایت تدویر یافته بود ابتدا، محترم مولوي محمد سرور حق پرست معاون ولایت لوگر در رابطه به اهمیت و مزایاي اخلاقي و اجتماعي فرامین عالیقدر امیر المومنین که بخاطر منع کشت کوکنار در کشور صادر گردیده است توضیح و تشریح نموده اضرار و پیامد هاي ناگوار مخدرات را بر شمرد.

بعداً چند تن از علما به نمایندگي از دیگران پیرامون موضوع صحبت نموده آماده گي شانرا در رابطه به منع کشت کوکنار در ولایت لوگر ابراز داشتند.

پروتوکول اعمار ...

شرنوال رئیس ترانزیت بین المللي وزارت تجارت در اتاق تجارت ولایت جوزجان با موسسه انجنیري البیر وني عقد گردیده که تهداب گذاري آن طی محفلي در بندر آقینه به اشتراك مسوولین و منسوبین شرکت ستراس محترم رئیس ترانزیت بین المللي وزارت تجارت، محترم ملا عبدالباري آمر سرحدي ، محترم ملا محمد اکبر آمر افسوتر و مسوول مواد نفتي و هیأت اعزامي وزارت تجارت صورت گرفت .

در محفل متذکره محترم رئیس ترانزیت بین المللي و محترم ملا عبدالمالك عاکف آمر شرکت ستراس بندر آقینه در مورد انجام خدمات بندر آقینه و عملیه تخلیه بارگیري اموال وارداتي و صادراتي تجار ملي صحبت نموده و محترم آمر شرکت ستراس به نماینده گی از شرکت متذکره آماده گي کامل خویشرا در جهت خدمت صادقانه و تسریع پروسه خدمات بندري اظهار داشت.

طبق اظهار یك منبع مربوط روزانه حدود هزار تن مواد اولیه از طریق بندر آقینه به کشور وارد و بالمقابل بعضي از پیداوار **صفحات شمال کشور نیز از این بندر صادر میگردد.**

د ګډون بيه له هيواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلنی
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

مراسم دستار بندي فارغین ...

فاروقي و محترم خلیفه صاحب داد محمد نائب مدرسه متذکره و رئیس شوراي علماي کرام ولایت غزني بالترتیب طي سخنراني هاي عالمانه شان رسالت و مسوولیت هاي علماي کرام را در شرایط حساس کنوني و نقش آنان را در رهبري جامعه و تحکیم نظام اسلامي و دفع طرد توطیه ها و دسایس استکبار جهاني برجسته ساختند گفتند : گرچه از نگاه ساختماني این مدرسه فقیر معلوم میشود مگر از نگاه معنویت و تصوف یك کانون بزرگ فراگیري علوم و فنون اسلامي و سنگر مستحکم دفاع از اسلام و قرآن در برابر دسایس دشمنان دین میباشد و بر ما و شما لازم است تا این سنگر قوي و مستحکم اسلامي را بیش از پیش در عرصه هاي مختلف در برابرد شمنان اسلام و افکار و اندیشه هاي فاسد و بیگانه تقویت بخشیم و از آن حمایت و پشتیباني نمایم.

بعداً دستار فضیلت ۲۵ تن که هفده تن آن بدرجه عالم و هشت تن آن بدرجه حافظ قرآن عظیم الشان میباشد توسط محترم حضرت سید امین جان مجددي رئیس مدرسه متذکره و عده یي از علماي جید در میان موجي از رایحه معنویت و صفاي باطن اشتراك کننده گان بسته گردیده و اسناد فراغت شان براي آنها داده شده موفقیت آنها از بارگاه خداوند «ج» استدعا گردید.

باید موضوعات مردم به وقت ...

تسهیلات و امتیازات براي قضات تاکید بعمل آمده است بخاطر اینکه براي خدمت دین مبین اسلام و حل و فصل منازعات مردم فارغ بوده و در فکر و اندیشه عمل دیگر نباشند. و هم از چیز هاي دیگر مستغني بوده و با اطمینان کامل و ظایف خویش را انجام داده باشند که در امارت اسلامي به این امر توجه خاص صورت گرفته است. پس قضات محاکم افغانستان باید به خدمت شریعت غراي محمدي «ص» و به حل منازعات و رفع مشکلات مردم خود را کاملاً فارغ نموده باشند. تا بتوانند وظیفه مقدس خویش را بصورت درست و سالم ادا نموده و عدالت کامل و واقعي را تامین کرده باشند.

محترم قاضي القضات افزودند : در باره سرعت عمل و اینکه باید موضوعات مردم در وقت و زمانش حل و فصل گردد در شرع تاکید زیاد شده است و مقام ا.ا.ا نیز به همین منظور براي حل و فصل دوسیه ها و موضوعات میعاد را تعین نموده است .

بناً اگر در کدام محکمه یك موضوع در میعاد تعین شده فیصله نشود باید مسوول آن محکمه نوع موضوع و قضیه را با علل و اسباب عدم انفصال موضوع و عوامل معطلي آن را به ستره محکمه گذارش و معلومات دهد . و همچنان اگر فیصله صدور یافته باشد و با وجود قطعي بودن و یا نهایي شدن آن از تطبیق مانده باشد باز هم باید به ستره محکمه اطلاع داده شود تا در باره رفع اینچنین مشکلات تصامیم لازم اتخاذ گردد.

محترم قاضي القضات ا.ا.ا علاوه نمودند : در محاکم براي تثبیت حقوق مردم و تعین مجازات مجرمین، اجراات صورت میگیرد و اسباب حکم در قضایا مختلف میباشد بسا اوقات حکم محکمه به شهادت شهود ثابت میشود اما در قبول نمودن شهادت باید از دقت و احتیاط زیاد کار گرفته شود. از شخص سود خور و یا کسیکه مال یتیم را میخورد و یا قمار باز باشد و یا به دروغ گویی شهرت داشته باشد. و یا فاسق باشد و لو که به سبب تراشیدن ریش فاسق شده باشد شهادت آنها قبول نمي شود، و هم لازم است که شاهدان باید به آن چیزي که گواهي میدهند علم داشته باشند و در حافظه یادداشت شان نقصان و خلل وجود نداشته باشد و هم باید از خویشاوندان ودوستان مدعي و از دشمنان مدعي علیه نباشند تا حقوق مردم تلف و یا مال نگردد.

سپس روي مواد و موضوعات شامل اجندا بحث و بررسي دقیق و همه جانبه بعمل آمد در هر بخش از طرف شوراي عالي تصاویب صورت گرفت و غرض تعمیل به مراجع و محاکم مربوط ابلاغ گردید.

تعدادي از دواخانه

صحت عامه به ادامه بررسي دواخانه ها و معاینه خانه هاي طبیبان هشت باب دواخانه را نسبت نداشتن دواساز و یك باب معاینه خانه را در مربوطات ناحیه یازدهم نسبت تخلف از مقررات وضع شده آنوزارت براي مدت سه روز مسدود نمودند.

طیارات عراق ...

گفت تلاش میکند منطقه پرواز ممنوع را که ایالات متحده امریکا و انگلستان در بخش عمده از عراق اعمال کرده اند برچیند.

طیارات ملکی عراق پرواز هاي داخلي خود را در منطقه پرواز ممنوع اخیراً از سر گرفته اند که از سال ۱۹۹۲ بدینسو بر آنکشور تحمیل شده است .

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim "Saqeb"
Editor: Ghulam M. Farooq
Printed by: Emirate's Printing Press